پوهنتون
۴ مخ

مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د زمري ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د اګسټ څلورمه | ٤۱٥مه ګڼه

# برخلیک ټاکونکي مذاکرات؛

## د قطر دفتر: له امریکا سره تر توافق وروسته بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي



۳

## نخبګان د لوړو زده کړو موسسه

د نخبګان د لوړو زده کړو په موسسه کې د تدریس چارې د ۱۱۵ استادانو له خوا پر مخ وړل کېږي، چې ټول استادان یې ماستر او ځینې یې ان دوکتورا هم لري.



## په خوست کې پر ۸۰ هکتاره ځمکه د زیتونو باغونه جوړ شوي



په خوست کې د خلکو د اقتصادي ودې پراختیا لپاره پر اتیا هکتاره ځمکه د زیتونو ۱٦ زره اصلاح شوي نیالګي ایښودل شوي دي.

د خوست د کرنې رییس انجنیر حفیظ الله شاه نوري وایي، پر دې پروژه څه باندې ۸۱ زره ډالر لګښت شوی چې په سلو کې ۹۳ د سوېس د مرستو پرمختیایي اداري ورکړی او اووه سلنه د ځایي خلکو ونډه ده.

هغه وایي: ((ځاځي میدان ولسوالۍ د اقلیم له نظره د زیتونو لپاره ډېره مناسبه ده او پیوند یې هم ښه نتیجه ورکړې ده. په تېرو کلونو کې پیوند د فیصدۍ له نقطې نظره ۴۵ فیصده و، خو سږ کال د پیوند لګېدلو فیصدي له ٦٥ څخه لوړه ده او په دې خاطر زموږ هلته تمرکز ډېر زیات دی».

د دغه ولایت چارواکي وایي، پلان لري چې په راتلونکي کې د زیتونو ترڅنګ، نور هغه نباتات چې دا مهال وحشي ښه لري، د پیوند په وسیله اصلاح کړي.

## له امریکا سره تر هوکړې وروسته ازموینه

۲ مخ

## د دوامداره ودې لپاره ګډون

۲ مخ

## څلوېښت کاله په توپان کې

۳ مخ

## یوناما: تېره میلادي میاشت د ملکي مرګ ژوبلې له اړخه تر ټولو خونړۍ وه

د وسله والو طالبانو په بریدونو کې ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې ترڅنګ، په ملکي سیمو د بهرنیو او افغان ځواکونو د هوایي بریدونو د زیاتوالي له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.


په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما ویلي، چې تېره جولای میاشت ملکي وګړو ته د اوښتې مرګ ژوبلې له اړخه تر ټولو خونړۍ میاشت وه او په دې موده کې ۱۵ سوه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی وایي، چې دغه تاوتریخوالی په یوه ډول د سولې له خبرو سره هممهاله زیات شوی دی.

د یوناما استازي تادامیچي یاماموتو ویلي: «څرنګه چې په وروستیو اونیو کې د سولې کوښښونو شدت موندلی، همدارنګه تاوتریخوالي هم زور اخیستی دی. زه په ټولو ښکېلو اړخونو باندې غږ کوم چې تاوتریخوالي ته په دې فکر چې د سولې په خبرو اترو کې به ورته غښتلی موقف ورکړي، شدت نه ورکوي. تاوتریخوالي ته شدت ورکول یوه پایله لري او هغه هم د ملکیانو ډېر شمېر وژل کېدل. اوس د حوصله مندۍ او د عادي افغان ملکي وګړو ژوند ته د درناوي وخت دی». په ورته مهال د تحقیقي ژورنالېزم دفتر په یوه راپور کې وایي، چې د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ملکي سیمو کې د افغان او امریکایي ځواکونو په هوایي بریدونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

د دغه راپور پر اساس، د هوایي بریدونو له امله د ملکي مرګ ژوبلې ۸۳ سلنه عاملان بهرني ځواکونه او ۷ سلنه مرګ ژوبلې عاملان افغان هوایي ځواکونه ښودل شوي دي.

## سیګار: د نشه یي توکو په موجودیت کې په افغانستان کې دایمي سوله ناممکنه ده



۲ مخ

## کرزی از اظهارات دونالد ترمپ به سازمان ملل اعتراض کرده اند



حامد کرزی رئیس جمهور پیشین افغانستان، از نماینده ملل متحد خواست تا نگرانی مردم افغانستان را از بابت اظهارات دونالد ترمپ، به سرمنشی سازمان ملل متحد برساند.

این در حالی است که دونالد ترمپ، چندی قبل در یک دیدار با عمران خان صدر اعظم پاکستان اظهار داشته بود، که اگر بخواهد، با کشتن ۱۰ میلیون افغان جنگ افغانستان را در ۱۰ روز پایان می دهد.

موصوف روز گذشته بار دیگر اظهارات خود را تکرار نموده است.


حامد کرزی رئیس جمهور پیشین افغانستان، این اظهارات را دیرزو در دیدار با تادامیچی یاماموتو نماینده خاص سازمان ملل متحد برای افغانستان ابراز داشت.

در یک خبرنامه که از طرف دفتر حامد کرزی منتشر شده آمده است، در این دیدار حامد کرزی انزجار و اعتراض خود را از اظهارات مکرر دونالد ترمپ رئیس جمهور ایالات متحده امریکا مبنی بر استفاده از خشونت علیه مردم افغانستان و اینکه ویرانی افغانستان برای ایالات متحده، ظرف سه - چهار روز ممکن است، ابراز داشت .

موصوف از یاماموتو خواست، تا نگرانی مردم افغانستان را از این بابت به سرمنشی سازمان ملل متحد برساند.

منبع افزوده است که در این دیدار، همچنان هردو جانب در مورد پروسه صلح افغانستان، پیشرفت‌ها در این عرصه و ایجابات افغانیزه ساختن این پروسه به منظور تأمین صلح پایدار در کشور، تبادل نظر کردند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store


## دریځ

### له امریکا سره تر هوکړې وروسته ازموینه

د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ پرون بیا په قطر کې خبرې پیل شوې او ویل کېږي چې دا به برخلیک ټاکونکې خبرې وي. له وروستیو بدلونونو ښکاري چې په راتلونکو څو ورځو کې به د طالبانو او امریکایانو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شي. د دواړو اړخونو ترمنځ له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش او د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه استعمال هوکړه کېږي چې ځینې فرعي مسایل هم پکې شامل دي.
د امریکا او طالبانو ترمنځ توافق کېدونکی دی، خو بین‌الافغاني خبرې او ربړه به څه وخت او څنګه حل کېږي؟
د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه کې دا بحث شته چې طالبان به په زور د واک اخیستو هڅه نه کوي، بلکې په سوله ییز ډول به له افغانانو سره بحث او د افغانستان پر راتلونکي موافقه کوي. په دې چاره کې یوه ستونزه دا ګڼل کېږي چې طالبان لا هم له حکومت سره د حکومت په حیث خبرې نه کوي، خو حاضر دي چې د نورو سیاسي اړخونو په شان یې یو اړخ وګڼي او خبرې ورسره وکړي. دا یو بدلون دی، ځکه چې طالبانو پخوا حکومت د یوه سیاسي اړخ په توګه هم نه مانه او یوازې حکومتي چارواکي یې په شخصي حیثیت د خبرو لپاره منل. حکومت لا هم ناراضه ښکاري او پر دې ټینګار کوي چې طالبان دې ورسره د حکومت په حیث خبرې وکړي او د افغانستان اساسي قانون په ګډون دې د تېرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې ومني.
اوس ټول دا درک کوي چې امریکا له طالبانو سره جوړجاړی کوي، خو دا هم ښکاره ده چې کله امریکا د زور لارې پرېږدي او جوړجاړی کوي، نو نور افغان لوري دې هم د زور، وژنو او کرکې خبرې پرېږدي. داسې شرطونه دې نه ږدي چې ستونزې او فاصلې زیاتوي. ښایي د عملي سولې په برخه کې یوه دسیسه هم دا وي چې د امریکا او طالبانو د خبرو له بریا سره سره، افغانان خپلمنځي ستونزه حل نه شي کړلی، په خپلو کې سره جوړ نه شي او له ښکېلو اړخونو داسې شرایط او دریځونه را ښکاره شي چې ورسره جګړه دوام کوي. دا کېدای شي، یو پلان شوی کار وي او یا ښایي ځینو اړخونو ته دنده هم ورکړل شوې وي. کله چې افغانان خپلمنځي ستونزې نه شي ختمولی او پر یو نظام او قانون نه شي سره جوړېدلی، نو بهرنیانو ته به یو ځل بیا د مداخلې زمینه برابرېږي او هغوی به د خپلو موخو لپاره زموږ ستونزې پراخوي.
همدې وېرې ته په کتو سره پکار ده چې ټول ښکېل لوري سولې ته پوره تیار وي. د کرکې، جګړې او وژنې ادبیات پرېږدي. ټول ښکېل لوري باید له خپله اړخه مثبت غبرګونونه وښیي، د سولې خبرې دې وکړي او جوړجاړي ته دې لاره برابره کړي. همدا چې د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه لاسلیک شي، ورسره سم دې افغاني خبرې پیل شي. په کوچنیو پلمو دې د دغو خبرو مخه نه نیول کېږي او ښکېل لوري دې هم سولې ته ژمن او مثبت کسان معرفي کړي. اوس به دا د ښکېلو لورو او ټولو افغانانو لپاره یوه ازموینه وي چې څنګه کولی شي له دې چانس څخه ګټه واخلي او په واقعي مانا جګړه ختمه کړي.

# څلوېښت کاله په توپان کې

لیکنه: حمید ناصري- د اکسون میډیا ګروپ مشر




د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رییس چې د ده په خبره، د ارګ له مرچ او مالګې نیولې له سپیني ماڼۍ سره تر مذاکراتو پورې یې په هرڅه کې مسوولیت درلود، د خپلو خاطراتو په تازه کتاب کې د افغانستان او متحده ایالتونو د اړیکو او د کرزي او سپیني ماڼۍ ترمنځ له جنجالونو جالبې کیسې لري.
«څلوېښت کاله په توپان کې» د عبدالکریم خُرم د ژوند سړې تودې، کورنی ژوند، جهاد او زده کړو، خاطرو، اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې د مسوولیت او د افغانستان د سیاست او قدرت د ماڼۍ (ارګ) تصویر ښیي.
دغه راز د کرزي دوره د افغانستان او متحده ایالتونو په اړیکو کې له جنجالونو ډکه دوره ګڼل کېږي.
د افغانستان او متحده ایالتونو د اړیکو لوړې ژورې، د افغانستان په سیاست کې د ښکېلو څېرو لیدلوري، له پاکستان سره اړیکې، د کرزي او سپیني ماڼۍ ترمنځ د ترهګرۍ ضد جګړې پر څرنګتیا، ستراتېژیک او امنیتي تړون، ملکي مرګ ژوبلې، بګرام زندان او د زندانیانو پر انتقال نانډرۍ، قطر دفتر، له امریکایي چارواکو سره د کرزي لفظي شخړې او مجادلې او د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنې او ولسمشر غني ته د واک انتقال د دغه کتاب د محتوا مهمې برخې دي.
«څلوېښت کاله په توپان کې» له خپلې کابینې او نږدې دوستانو څخه د کرزي د بېزارۍ او له امریکایي چارواکو سره د هغه د لفظي شخړو او تونډو ډیالوګونو حکایت کوي.
کریم خُرم وایي چې د ۲۰۱۲ ز کال په اګست کې د متحده ایالتونو او افغان حکومت ترمنځ د زندانیانو د انتقال پر سر اړیکې کړکېچنې شوې. پخواني ولسمشر حامد کرزي ټینګار درلود، چې دغه زندان باید ژر افغان حکومت ته وسپارل شي، خو د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جان الن او په کابل کې د امریکا سفیر د زندانیانو د اداري توقیف او ساتلو غوښتنه درلوده.
د دواړو خواوو ترمنځ په ارګ کې خبرې تونډې شوې: «کرزي امریکایي چارواکو ته وویل، چې د زندان موضوع نوره پای ته رسېدلې ده.
جنرال الن په لوړ غږ وویل، چې تاسې پاتې راغلي یئ.
کرزي وویل، بهرنیان نور د زنداني کولو حق نه لري.
الن، کراکر ته وکتل او ویې ویل، سفیر صېب دا خبرې نور نتیجه نه ور کوي.
کرزي وویل، د افغانستان اشغال نور باید پای ته ورسېږي.
جنرال الن په داسې حال کې چې له ځایه یو څه پورته شوی و، وویل، له وخته مو مننه».
له دې مکالمې وروسته کرزي د خپل دفتر رییس ورغوښتی و او هغه بریښنالیک یې ور ښودلی و، چې په نیویارک کې د افغانستان استازولۍ رالېږلی و. په بریښنالیک کې ویل شوي وو، چې دوی ته د ور رسېدلو معلوماتو له مخې، جنرال الن غواړي کرزی د خپل یوه ساتونکي (پي پي ایس) په وسیله ترور کړي.

**وزیرانو د کرزي ننګه نه کوله**

خُرم چې د پخواني ولسمشر ښی لاس او د هغه په سیاستونو او دریځونو کې ټاکونکی کس ګڼل کېږي، وایي، امریکایانو بګرام زندان ته له حده ډېر ارزښت ورکاوه، خو کرزي بیا د بهرنیانو د زندانونو، شپنیو عملیاتو او زنداني کولو مخالفت کاوه. د هغه او خُرم پر باور، دا پر جګړه تېل پاشل او د جګړې د لیکو تودول وو.
خو کرزی یوازې له امریکایانو سره لاس او ګریوان نه و. هغه په خپله کابینه او نږدې کسانو کې هم په دې برخه کې ډېر کم ملګري لرل.
د خُرم په باور، کرزی د ملکي مرګ ژوبلې، بګرام زندان او امنیتي تړون په برخه کې د کابینې ډېرو غړو یوازې پرېښی و. د زندانیانو د انتقال په تړاو د اعلامیې خپرولو پر وخت سپنتا له کرزي غوښتي وو، چې د افغانستان د منتخب ولسمشر په حیث له بدې لهجې ډډه وکړي. کرزي یې په ځواب کې ویلي وو: «زه ولسمشر نه، بلکې د دغه مزدور حکومت رییس یم. زه ولسمشر نه بلکې د مزدورانو باشي یم».
د دفاع وزیر بسم الله محمدي په اړه راغلي، چې نوموړي د بګرام زندان د انتقال مسوول جنرال غلام فاروق بارکزي ته د ډګر جنرالۍ رتبې په ورکولو کې ناغېږي کوله. د دې لپاره چې هغه د بګرام زندان قوماندان ټاکل شوی وای، باید د اردو ډګرجنرال وای.
د ښاغلي خُرم په باور، هغوی چې په مختلفو دلایلو د امریکا ملاتړ کاوه او نه یې غوښتل امریکایي جنرالان ترې خپه شي او له مختلفو لارو یې د کرزي پر اعصابو کار کاوه. اشرف غني ویل: «زه وېره او معلومات لرم، چې که له امریکایانو سره د بګرام مسئله ټینګه را ونیسو، کېدای شي ستاسې خلاف کودتا وشي او دا کودتا به جنرالان نه، بلکې هغه صاحب منصبان کوي چې د ډګرمنی، ډګروالۍ او تر دې ټیټې رتبې لري». بسم الله محمدي ویل: «رییس صېب حوصله وکړئ، خدای دې ځوک نه محتاج کوي، څه وکړو محتاج یو...»
د ملي امنیت مشاور ویل: «زه د شپنیو عملیاتو پلوی یم او د دفاع وزیر نه یم، چې د ځوکۍ په خاطر ستاسې سختې کلمې وزغمم».

**د امریکایي چارواکو خشن چلند**

پخوانی ولسمشر له امریکایي چارواکو سره په سخت چلند مشهور دی.
امریکایي چارواکي نوموړی توهمي او ژر غوسه کېدونکی شخص ګڼي، خو د خُرم په نظر، د کابل او واشنګټن ترمنځ د اړیکو د ترینګلتیا یو مهم علت د امریکا پر صداقت د باور نشتوالی و. امریکایانو هم په مجلسونو کې له خشنو حرکاتو او تهدیدونو کار اخیست.
دی د متحده ایالتونو د پخواني ولسمشر د ملي امنیت مشاوره سوزان رایس، د بهرنیو چارو پخوانی وزیر جان کیري، ځانګړی استازی ریچارډ هالبروک او جنرال جان الن د داسې کسانو په توګه یادوي، چې له کرزي سره په ناستو کې یې هغه ته رډ رډ کتل او خشن حرکات یې له ځانه ښودل.
کرزي امریکایي چارواکو ته په یوه مجلس کې ویلي وو، چې نه د دوی تهدیدات نتیجه ورکوي او نه د ډیویډ پېټریوس له خوا د قومي مشرانو وژل.
«څلوېښت کاله په توپان کې» کتاب چې کابو په ۷۰۰ مخونو کې لیکل شوی او په نږدې ورځو کې به د اکسوس کتابپلورنځي له خوا په پښتو او دري ژبو خپور شي، پکې راغلي چې امریکایان پوهېدل، چې خُرم کرزي ته نږدې دی او خبره یې مني. جنرال الن د ناټو د یوه فرانسوي جنرال له لارې غوښتل له خُرم سره اړیکه ورغوي، خو چې کله دې هڅو نتیجه نه ده ورکړې، پیر سیداحمد ګیلاني ته یې ویلي: «کریم خُرم ته نصیحت وکړئ او د بګرام زندان په موضوع کې یې له سرتمبګۍ را وګرځوئ». وروسته ګیلاني دی ورغوښتی و او ورته ویلي یې وو چې جنرال الن وایي: «د خُرم ځای ریاست دفتر نه، بلکې هغه ځای دی چې هلته خلک نارنجي کالي اغوندي».

**کیاني د ملابرادر د خوشې کېدو مخنیوی کاوه او هغه یې نور مهم نه باله**

«څلوېښت کاله په توپان کې» د قطر پر دفتر او د دغه دفتر په اړه د کرزي پر اندېښنو هم غږېدلی دی.
کریم خُرم وایي، د ۲۰۱۳ ز کال په اپرېل کې یې په بلجیم کې د ناټو لپاره د امریکا د سفیر په کور کې درې اړخیزه غونډه درلوده. په دې غونډه کې چې جان کیري او د پاکستان لوی درستیز اشفاق کیاني پکې ګډون درلود، کرزي د ملا برادر د خوشې کولو غوښتنه کړې وه، خو کیاني استدلال کاوه چې هلته کوټې شورا طیب اغا مشر ټاکلی او په قطر دفتر کې د ملا برادر اړتیا نه لیدل کېږي. د کیاني په باور، قطر ته د ملا برادر تګ جنجال جوړوي. کرزي له پاکستان نه د ملا غني برادر خوشې کول غوښتل، خو کیاني ویل چې ملا برادر خپل اعتبار له لاسه ورکړی او دوی ځکه نیولی او زنداني کړی، چې د جګړې له ډګره لرې وساتل شي.

**کتاب د ۲۰۱۴ کال پر انتخاباتو هم تمرکز لري.**

لیکوال وایي، یوه ورځ مې له کرزي وپوښتل چې د اشرف غني د احتمالي نوماندۍ ملاتړ کوی؟
کرزي په ځواب کې وویل: «بده نه ده چې رییس جمهور شي. یو چې کوم کاغذ ورته وړاندې شي، سر یې پرې خلاصېږي، دویم که وغواړي د هېواد د ګټو دفاع کولی شي». خُرم وایي، اشرف غني چې واک ته ورسېد، په لومړۍ ورځ یې امنیتي تړون لاسلیک کړ او د ارګ د مامورینو ګوښه کول یې پیل کړل. «هغه کسان چې کرزي ممنوع الدخول اعلان کړي وو، دغه بندیزونه یې ترې لرې کړل».
خُرم وایي، کرزي خپل ورور قیوم کرزی ورغوښتی و، چې انتخاباتو کې له نوماندۍ لاس واخلي او که دا کار نه کوي، خلکو ته به ووایي چې ورور یې امریکایی دی، رایې مه ور کوئ.

## ننګرهاریان: وروستیو ناامنیو او سړي تښتونو سخت اندېښمن کړي یو



د ننګرهار اوسېدونکي وایي، په دغه ولایت کې وروستیو ناامنیو او سړي تښتونو سخت اندېښمن کړي دي.
دوی وایي، د ولسمشر غني د دورې له پیل څخه تر دې دمه دغه ولایت ته پنځه والیان لېږل شوي، خو هلته په روان امنیتي وضعیت کې هېڅ بدلون نه دی راغلی.
دوی دغه راز وایي چې په دې تړاو یې څو ځله له ولایتي اداري او مرکزي حکومت سره خپلې اندېښنې شریکې کړې، خو د مخنیوي په اړه یې هېڅ ګام نه دی پورته شوی.
د دغه ولایت عام اوسېدونکي او فعالان وایي، په تېرو څو میاشتو کې پر ولسوالیو سربېره، په جلال اباد ښار کې داسې پېښې شوې چې عام ولس یې هېڅ ډول تصور هم نه شي کولای.
د دوی په خبره، د ښار په منځ کې د امنیتي ځواکونو او حکومتي پلوو کسانو ترڅنګ، د ترافیکو وژنه او دې ته ورته نورې مرګونې پېښې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي.
دوی دغه راز وایي چې پر یادو پېښو سربېره، په دغه ولایت کې د شتمنو کسانو او پانګه‌والو ژوند هم له جدي خطر سره مخ دی چې تر ټولو مهمه او وروستۍ پېښه یې د انعکاس ټلوېزیون د مشرتابه ترور و.
فعالان وایي، د دغه ولایت په مرکز جلال اباد کې نامعلومه کسان نږدې هره ورځ عام خلک او ډاکټران تښتوي او بیا یې د پیسو په مقابل کې راخوشي کوي، خو ولایتي اداري تر اوسه په دې تړاو مرموزه چوپتیا اختیار کړې ده. د دوی په خبره، د روان کال د چنګاښ په ۲۰مه د جلال اباد ښار د پنځم واټرپمپ ترڅنګ، په درېیمه ناحیه کې حاجي محمد انور د غاټول زوی د ننګرهار مستوفیت د تادیاتو عمومي مدیر، د سهار لمانځه لپاره د مسجد پر لور روان و چې د ناپېژانده وسله والو له خوا تښتول شوی او تر اوسه یې د ژوند او مرګ په اړه هېڅ خبر نه لري. بلخوا د حاجي محمد انور کورنۍ هم وایي چې له هېچا سره شخصي دښمني نه لري او په خبره یې چې تر دې وړاندې هم چا ورته ګواښونه نه دي کړي.



# د دوامداره ودې لپاره ګډون

لیکنه: شي مېنګ / د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې مشر

جګړې له اوږدې مودې راهیسې افغانان ځپلي او سوله په افغانستان کې د ټولو خلکو ګډه غوښتنه ده. د افغانستان موضوع د ټولو اړخونو لپاره یوه اندېښنه پاتې شوې، خو له دې کبله چې پېچلې او حساسه ده، ښکېل اړخونه تر اوسه هم د سوله ییز حل لپاره هر اړخیزې اجماع ته نه دي رسېدلي. اوسمهال په افغانستان کې د سولې او پخلاینې بهیر په حساس پړاو کې دی او افغانان په تېرو ۴۰ کلونو کې هېڅکله سولې ته دومره نه وو نږدې شوي لکه اوس. په افغانستان کې سوله د بین‌الافغاني مذاکراتو له لارې ممکنه ده او نړیواله ټولنه باید له دغه بهیر سره هر اړخیزه مرسته وکړي. څو اړخیز مکانیزمونه لکه د چین-افغانستان- پاکستان د بهرنیو چارو د وزیرانو ناستې د افغانانو ترمنځ د خپل منځي خبرو لپاره د زمینې برابرولو مهم پلټفورم جوړېدلی شي.

د افغانستان په وضعیت کې وروستی تر ټولو مثبت بدلون د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو پیل دی. په افغان کړکېچ کې د دوو اصلي لورو په توګه د دوی ترمنځ مذاکرات خورا ارزښتمن دي. د ۲۰۱۸ ز کال له اکتوبر راهیسې امریکایانو د طالبانو له استازو سره اووه پړاوه خبرې کړې دي. سره له دې چې د دواړو اړخونو غوښتنې یو ډول نه دي، خو دواړه اړخونه د وروستي هدف په توګه د جګړې ختمولو لپاره کار کوي. د عامو شویو معلوماتو له مخې، دواړو لورو پر څلورو موضوعاتو بحثونه کړي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې ژمنه، د امریکایي ځواکونو وتل، بین‌الافغاني مذاکرت او دایمي اوربند په کې شامل دي. د طالبانو ویاند په دې وروستیو کې ویلي چې دواړه لوري د دې موضوعاتو په تړاو په اصولو کې اجماع ته رسېدلي دي. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ټینګار کړی چې امریکا د ځواکونو د وتلو لپاره د یوې ساده هوکړې پر ځای، د سولې د یوې هر اړخیزې هوکړې په لټه کې ده. باید وویل شي چې په افغانستان کې د سولې سپېدې د ښکاره کېدو په حال کې دي، له همدې کبله اړتیا ده چې ټول اړخونه پام وکړي.

افغانستان د حکومتولۍ په برخه کې هم مهمې لاسته راوړنې لري. سره له دې چې د ولسي جرګې د رییس د ټاکلو په برخه کې ځینې ستونزې وې، خود پارلمان لپاره ټاکنې په بریالیتوب تر سره شوې. په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د ولسمشرۍ څلورم ځل ټاکنې د روان کال په سپټمبر میاشت کې تر سره کېږي. پر دې سربېره، افغان ټولنې په ښوونځیو کې د شاملو زده کوونکو، د ښځو د حقونو د خوندیتوب او کتلوري رنګارنګۍ په برخو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.

له دې سره پر یوه وخت د افغانستان د سولې بهیر ته د سیمې او نړۍ د هېوادونو پام بې ساري حد ته رسېدلی دی. د چین او پاکستان په ګډون سیمه ییز هېوادونه، له سیمې د باندې هېوادونه او نړیوال بنسټونه هڅه کوي چې د افغان سولې لپاره منځګړیتوب وکړي. دوی د سولې له بهیر سره د مرستې لپاره خپله ټوله هڅه کوي. په افغانستان کې سوله او ثبات د سیمې د هېوادونو لپاره ډېر ارزښتمن دي. چین مکرراً ټینګار کړی چې په افغانستان کې بدلونونه د بیجېنګ لپاره د اندېښنې وړ دي او تل یې د سولې د ترویج په برخه کې فعال رول لوبولی دی. چین تل د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د بهیر ملاتړ کړی دی.

په افغانستان کې د سولې بهیر برخلیک ټاکوونکي حالت ته رسېدلی دی. په جګړه کې ښکېل افغان لوري باید له دې فرصته د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل او له مهمو ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو د پیاوړتیا لپاره ګټه پورته کړي. دا په افغانستان کې سولې ته د رسېدو یوازینۍ لار ده.

لومړی باید د افغانستان ټول سیاسي لوري او قومي ډلې پر راتلونکي تمرکز وکړي او د تفاوتونو له ساتلو سره سره شریک ټکي پیدا کړي. افغانستان داسې هېواد دی چې ډېر قومونه په کې ژوند کوي او پر دې سربېره، له بهرنیو اشغالګرو سره د مقاومت او د سیاسي پرمختګ په بهیر کې ډېرې سیاسي ډلې هم په کې رامنځته شوې دي. ټولې قومي ډلې او سیاسي خوځښتونه یو هدف لري چې هغه په ملي کچه سولې ته رسېدل دي، خو د ځانګړو موضوعاتو په تړاو لا هم مخالفتونه شته. باید وویل شي چې هېڅ سیاسي لوری هم په راتلونکي کې د حکومتولۍ له سیسټم څخه مطلق امتیاز نه شي تر لاسه کولی. حکومت باید د بېلابېلو قومي ګروپونو او سیاسي ډلو مشروع اندېښنو ته ځواب ووایي او د پخلاینې په بهیر کې د هغوی قانوني غوښتنې په پام کې ونیسي. د مهمو موضوعاتو لکه له طالبانو سره د مذاکراتو په تړاو دریځ باید یو شي، تر څو د مرکزي حکومت همغږي نوره هم پیاوړې شي.

دویم دا چې افغان دولت او وسله وال طالبان باید څومره چې ژر کېدای شي، مخامخ خبرو ته کښېني او د بین‌الافغاني مذاکرتو له لارې د خپل هېواد د راتلونکي په تړاو د اجماع په لټه کې شي. له پوځي او سیاسي دواړو اړخونو د طالبانو حضور یو واقعیت دی. پر پوځي عملیاتو اتکا طالبان په بشپړ ډول له منځه نه شي وړلی. دغه راز طالبان هم باید د منتخب افغان دولت قانوني حالت ومني او له هغه سره د سولې د یوه غیري قابل انکار لوري په توګه چلند وکړي. د افغانستان د سولې بهیر بالاخره د افغانانو خپله پخلاینه ده. دا اړینه ده چې یوې اجماع ته د رسېدو لپاره پر بین‌الافغاني مذاکراتو تمرکز وشي او د اجماع پرېکړې باید خپله افغانان عملي کړي. افغان لوري باید واقعیت ومني، همدې اصل ته ژمن پاتې شي، په خبرو کې انعطاف وښیي او په دې ډول افغانستان د کورنۍ جګړې د سربښو په ډنډ کې له لوبدو وژغوري.

درېیم دا چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخیز باور باید نور هم پیاوړی شي، څو امنیتي ستونزې له منځه ولاړې او یوه خوندي ټولنه رامنځته شي. پاکستان د افغان سولې او پخلاینې په بهیر کې اساسي رول لوبوي. پاکستان له ترهګرۍ سره په جګړه کې ډېرې قربانۍ ورکړې او له دې جګړې سره یې په لویه کچه مرسته کړې ده. افغانستان او پاکستان له یو بل سره تړلي، له همدې کبله د افغانستان ثبات پر پاکستان مثبت اغېز لري. د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیز باور نور پیاوړتیا نه یوازې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې له بهیر سره مرسته کوي، بلکې د پاکستان پر شاوخوا چاپېریال هم اغېز لري. دا په وضاحت هغې وینا ته ورته حالت دی چې وایي: «یووالي کې بریالي کېږو او په تفرقه کې ناکامېږو».

افغانستان د منځنۍ آسیا، سویلي آسیا او لوېدیځې آسیا په څلورلارې کې پروت دی او له یوه مهم جیوسټراټیژیک امتیاز څخه برخمن دی. د افغانستان موضوع له دې اړخه هم حساسه ده چې هېڅکله یوه ساده کورنۍ ستونزه نه وه. له همدې کبله باید د سیمې هېوادونه او نړۍ له افغانستان سره مرسته وکړي چې سوله او پخلاینه ترویج کړي. د افغانستان د ټولو ګاونډیانو ترمنځ یوازې چین د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړی دی. چین په افغانستان کې د ټولو سیاسي اړخونو د باور وړ شریک او د سولې سرسخت ملاتړی دی. افغانستان له پاکستان سره ۲۰۰۰ کیلومتره پوله، ورته کلتور، اړیکې او ګټې لري. چین او پاکستان هم دایمي دوستان دي چې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په اړه ټینګ او دوامداره دریځ لري. چین او پاکستان له بېلابېلو لارو، په ځانګړي ډول د چین-افغانستان-پاکستان د بهرنیو چارو د وزیرانو د ډیالوګ او د شانګهای د همکاریو د سازمان له لارې، په افغانستان کې د سولې د رامنځته کېدو لپاره هڅه کړې ده.

د دریو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ دوه ځله بریالۍ ناستې تر سره شوې دي. د افغانستان د پخلاینې بهیر له مهم فرصت سره مخ دی. درې واړه لوري هڅه کوي چې همکارۍ پیاوړې کړي او طالبان څومره چې ژر کېدای شي، له افغان دولت سره د مذاکراتو مېز ته کښېني او په دې ډول دا ډله له روان سیاسي بهیر سره یو ځای کړي.

د شانګهای د همکاریو سازمان ډېری غړي له افغانستان سره پولې لري یا په جغرافیوي لحاظ نږدې ورته پراته دي. د افغانستان موضوع د هغوی پر ثبات تر بېلابېلو کچو اغېز لري. چین او پاکستان د دغه سازمان غړي او افغانستان یې څارونکی دی. له پیله د افغانستان موضوع د دوی لپاره یوه مهمه اندېښنه ده. د ۲۰۱۹ ز کال په جون کې د «د افغانستان لپاره د شانګهای سازمان د تماس د ډلې» غونډه په بېشکېک کې جوړه شوه چې د افغانستان په تړاو د دغه سازمان همکارې نوره هم پیاوړې شي. چین د افغانستان په قضایاوو کې د شانګهای سازمان له فعال رول څخه په تکرار ملاتړ کړی او دغه راز یې د سازمان په چوکاټ کې د افغانستان د عملي همکارۍ غوښتنه کړې ده. په افغانستان کې کورنې بدلونونه تل د شانګهای سازمان د توجه په محراق کې اوسېدلي دي.

په تاریخي لحاظ افغانستان د ورېښمو د لارې په مسیر کې یو مهم هېواد او د ترانسپورټ ستر مرکز و چې چینایي او لوېدیځ مدنیتونه یې سره نښلول. له همدې ځایه د ورېښمو لار د سوېل پر لور سویلي آسیا او هند ته او د لوېدیځ پر لور لوېدیځې آسیا، عربي هېوادونو او آن اروپا ته غځېدله. کابل، بلخ، کندهار او هرات د ورېښمو د تاریخي لارې په مسیر کې ستر سوداګریز ښارونه وو. پر دې سربېره، افغانستان د طبیعي منابعو غني زېرمې هم لري. د امریکا پوځ او جیولوجستان وایي چې د افغانستان د طبیعي زېرمو ارزښت تر (یو ټریلیون) ډالرو اوړي. افغانستان داسې خزانه ده چې باید پراختیا ورکړل شي. مهمه خبره دا ده چې افغان لورې د چین له لوري د یو کمربند یوې لارې له نوښت سره یو ځای کېدو ته پیاوړې لېوالتیا لري. افغانستان هیله لري چې په بشپړ ډول له سیمه ییز اقتصاد سره مدغم شي او د آسیا په لویه وچه کې د (پله) رول ولوبوي. لکه زموږ د دریو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو چې تېر کال د درې اړخیزې غونډې په پای کې وویل چې دریو واړو هېوادونو هوکړه کړې، چې د یو کمربند او یوې لارې د پروژې او د سیمه ییز اتصال او همکارۍ لپاره به ګډ کار کوي. چین او پاکستان د افغانستان د جغرافیایي امتیاز او د چین او پاکستان د اقتصادي کوریډور په څېر د سیمه ییزو پروژو ملاتړ کوي.

په چین کې یوه معقوله ده: «نږدې ګاونډی تر لرې خپلوان غوره دی». د چین خلکو تل د افغانستان او پاکستان د خلکو لپاره ښه نیت لرلی او درناوی یې کړی. موږ باوري یو چې د ګډو هڅو پر مټ په سیمه کې د ټولو اړخونو اندېښنې ژر له منځته تللی شي.

# برخلیک ټاکونکي مذاکرات؛

## د قطر دفتر: له امریکا سره تر توافق وروسته بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي



په قطر کې د طالبانو او زلمي خلیلزاد ترمنځ برخلیک ټاکونکي مذاکرات روان دي. د طالبانو د قطر دفتر مرستیال وایي، چې په دې پړاو مذاکراتو کې د طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ د هوکړې د لاسلیک امکان دی او د توافق د لاسلیک کېدو په صورت کې به د ټولو خارجي ځواکونو د وتلو مهالوېش اعلانېږي او له هغه وروسته به بین‌الافغاني خبرې پیلېږي، چې حکومت به د یوه جهت په حیث پکې ګډون کوي.

طالبانو او امریکا اووه پړاوه مذاکرات تر سره کړل، تر دې چې دواړه لوري د یوه توافق پر لاسلیکولو سره سلا شوي او په دې اړه خبرې روانې دي. دوی د اتم ځل لپاره سره جرګه شوي دي او دواړه لوري د یوې هوکړې لاسلیکولو ته تیارې ښيي. د دې مذاکراتو تر پیل مخکې زلمی خلیلزاد په پاکستان کې و او هلته یې هم پر مهمو مواردو له پاکستاني چارواکو سره خبرې کړې دي.

بل پلو طالبان بیا د داسې یوه توافق د رامنځ کېدو خبره کوي، چې په هغه کې به د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل شامل وي. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال وایي، چې په دې پړاو مذاکراتو کې د یوه توافق احتمال موجود دی، داسې توافق چې له افغانستانه به د ټولو بهرنیو سرتیرو د وتلو بهیر پکې شامل وي.

مولوي عبدالسلام حنفي وایي، چې د نړیوالو څارونکو په حضور کې د دې توافق تر اعلان وروسته به خارجي ځواکونه په ټاکلي وخت له افغانستان څخه وځي او تر هغه وروسته به د مذاکراتو داخلي بُعد پیلېږي. نوموړی وایي: ((د توافق په صورت کې، د څارونکو په مخکې پر دې هوکړه کېږي چې ټول بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي. دا وتل به په هوکړه کې د جوړ شوي مهالوېش له مخې تر سره کېږي. تر دې وروسته د مذاکراتو داخلي اړخ پیلېږي. بیا به پر ټولو مواردو بحث کېږي. د اساسي قانون مسئله، د اسلامي نظام رامنځ ته کېدل، په امنیتي ادارو کې اصلاحات او دا ټول موارد د مذاکراتو داخلي بعد دی چې بحث به ورباندې وشي)).

سلام حنفي بیا دا هم وایي چې افغان حکومت به د یوه جهت په حیث په دې مذاکراتو کې برخه اخلي. دی وایي چې له امریکایانو سره تر هوکړې وروسته به بین‌الافغاني مذاکراتو ته داخل شي او افغان حکومت د یوه لوري په توګه په دې مذاکراتو کې برخه اخیستلی شي. نوموړی وایي: ((له امریکایانو سره تر هوکړې وروسته بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي. افغان حکومت د افغان او د یوه لوري په توګه په دې مذاکراتو کې برخه اخیستلی شي)).

حنفي لا هم ټینګار کړی چې افغان حکومت به د حکومت په توګه نه، بلکې د یوه افغان لوري په توګه په دې مذاکراتو کې برخه اخلي. دغه طالب چارواکی داسې مهال ورته څرګندونې کوي چې امریکا طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته اړ بولي. خلیلزاد ویلي چې تر هوکړې وروسته به طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کښېني.

په ورته مهال د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد، چې په دوحه کې له طالبانو سره پر خبرو اترو بوخت دی، وایي، د طالبانو له لوري یې داسې نښې نښانې لیدلې چې دغه ډله غواړي د سولې نهایي توافق حاصل شي. خلیلزاد وایي: ((د طالبانو له لوري مې داسې زیګنالونه تر لاسه کړي، چې هغوی غواړي د سولې نهایي توافق وشي. موږ یوه ښه توافق ته چمتو یو، موږ د وتلو د توافق په لټه کې نه یو، بلکې سولې ته د رسېدو توافق په لټه کې یو، چې دا توافق کولی شي د ځواکونو وتلو ته لاره هواره کړي)).

په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ په دې پړاو مذاکراتو کې یوه توافق ته د رسېدو خبرې داسې مهال کیږي، چې ویل کیږي د طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ تر هوکړې وروسته به د متحده ایالاتو او افغان حکومت ترمنځ هم یو توافق لاسلیک شي. ویل کېږي چې دغه پړاو مذاکرات به د افغان جګړې او سولې لپاره برخلیک ټاکونکي او مهم وي.

## د کتـاب خبـرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

**له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره**




په ۱۹۷۰ز لسیزه کې د اسلام‌اباد او کابل اړیکې د یو بل د مخالفینو د ملاتړ پر سر لا خرابې شوې. وروسته له هغه چې د پوځ له څپلو د ۳۰۰۰۰ په شاوخوا کې مري بلوڅان افغانستان ته کډوال شول، افغان حکومت پناه ورکړه. که څه هم مري بلوڅان د یوه ملت پال هدف په موخه جنگېدل، خو هغوی خپله اېډیولوژي مارکسېستي اېډیولوژۍ ته منسوله. د افغانستان د حکومت پر ضد پاکستاني حکومت افغان اسلام پالو د بېلگې په توگه احمد شاه مسعود او گلبدین حکمتیار ته د روزنې لړۍ پیل کړه. د پاکستان په ملاتړ هغوی په ۱۹۷۵ز کال سرغړونه پیل کړه.

د افغانستان په چارو کې د پاکستان لاسوهنې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې لا زور واخیست. پاکستان افغان مجاهدینو ته ځای ورکړ، خو افغانستان بیا د پاکستاني بېلتون پالو لپاره پټنځای شو. د کابل حکومت د پاکستان د خلکو گوند یوه غړي او یاغي الذولفقار ته ځای ورکړ. دا ډله د پاکستان له خلکو گوند بېله شوې وه، هغوی غوښتل چې د جنرال ضیاء الحق نظامي رژیم وپرځوي، ځکه ضیاء د پاکستان د خلکو گوند د مشر ذولفقار علي بوټو ځای نیولی و. د دې ډلې مشري د ذولفقار علي بوټو زوی، مرتضی بوټو کوله.

**د جهاد نړیوالتوب**

د ۱۹۷۸ز کال په اپرېل کې د خلق ډیموکراټیک گوند هغه نظامي افسران چې د دوی ډلې ته وفادار وو، پر سردار محمد داوود خان کودتا وکړه. داوود خان یې له خپلې ټولې کورنۍ سره وواژه. له دې سره د درانیو قدرت پای ته ورسېد. د افغانستان په سیاست کې یوه نوې سیالي پیل شوه. له دې سره د پښتنو په سرحدي سیمو کې ناامنۍ لا زور واخیست او د جگړې یو نوی څپرکی پیل شو. شل میاشتې وروسته، د ۱۹۷۹ز کال د کرېسمېس په ورځ، روسانو پر افغانستان یرغل وکړ چې د افغانستان جگړې ته یې نړیوال بعد ورکړ. راتلونکو کلونو کې د نړیوال جهاد پیل له همدې ځایه کېده. د جهاد مالي ملاتړي ټول مسلمانان نه وو، نه هم هغوی د جهاد د اوږدمهالو گټو غم اخیستی وو.

پر افغانستان د شوروي له یرغل وروسته پاکستان د امریکا لپاره د لومړۍ کرښې د ملگري په توگه را څرگند شو. د واشنگټن په ملاتړ، د پاکستان نظامي مشرانو وکولای شول چې د افغانستان له مجاهدینو سره بشپړه همکاري وکړي. د دې لپاره چې د ملت پالو جنگیالیو مخه یې نیولې وي، پاکستان د گوندونو او په بهر کې مېشت ملتپال په رسمیت ونه پېژندل. هغه مرستې چې د افغان مجاهدینو لپاره له امریکا متحده ایالتونو، سعودي، لوېدیځې اروپا او چین څخه راتلې، د تنظیمي او مدیریت چارې یې د پاکستاني خارگرو تر لاس لاندې وې. له مجاهدینو سره د متحده عرب اماراتو بډایه سوداگرو هم پراخې مرستې کولې. د جنرال ضیاء الحق رژیم د افغانستان د جهاد پر ملاتړ سره خپل دېکتاتور رژیم ته مشروعیت ولټاوه. د دې پالیسۍ په پلي کېدو سره تر ټولو لوی زیان د پښتانه کور ته ورسېد، ځکه ټولې پښتنې سیمې ورسره نا امنه شوې.

پاکستان د جهاد لپاره په زرگونو مدرسې، اسلامي وسله وال سازمانونه او نورو ملاتړ وکړ چې وروسته یې خپله پاکستان ته لوی گواښ جوړ کړ. پاکستان د دې لوبې له عینکو خپل ملي امنیت ته هم پام کاوه. «هند» پاکستان ته د یوه دښمن هېواد په توگه یو لوی گواښ دی. له پاکستان څخه د هند نفوس اته ځله ډېر دی، د هغوی اقتصادي امکانات او سرچینې هم له پاکستان څخه ډېرې دي. په سړه جگړه کې د پاکستان ورگډېدل، له سړې جگړې وروسته د افغانستان په کورنیو جگړو کې د پاکستان دلچسپي او له ټولو راوروسته د ترهگرۍ پر وړاندې د مبارزې په جگړه کې د پاکستان گډون، ښیي چې دا هرڅه اسلام‌اباد له نوي ډهلي سره د سیالۍ له کبله کړي.

پاکستان وایي، هندي سیاستوالو هېڅکله د پاکستان د موجودیت مشروعیت په بشپړه توگه نه دی منلی. د اسلام پالو په ملاتړ سره پاکستان هڅه کوي، له یوې خوا په افغانستان کې د هند نفوذ کم کړي او له بل لوري پرې نږدي چې هند د پاکستان لوېدیځې پولې ته گواښ جوړ کړي. په ۱۹۸۰ز او ۱۹۹۰ز لسیزو کې پاکستاني جنرالانو د خپل هېواد د لوېدیځې پولې ساتنه یا د هغوی په وینا ستراتیژیک عمق تر ټولو لوړ لومړیتوب گڼلی. پاکستان غواړي کابل کې داسې ملگری رژیم حاکم وي چې د اړتیا پر مهال له هند سره د جگړې پر وخت پاکستانیو نظامیانو ته د افغانستان هوایي حریم او ځمکنۍ نظامي اډې ورکړي. پاکستان په افغانستان او د کشمیر د جگړې لپاره د افراطي شبکو په سمبالښت او روزلو کې خپله وړتیا ښودلې. د دې لمسوونکو کړنو په ترڅ کې ځینې وختونه هند او پاکستان د یو بل پر وړاندې له هستوي وسلو د کار اخیستلو گواښونه کوي. په ۱۹۹۹ز کال د هندي کشمیر په کارگیل سیمه کې د کشمیري اسلامپالو یاغیانو او پاکستاني پوځیانو له لوریو سخت برید وشو. بل برید د پاکستان مېشتې ترهگرې ډلې له لوري، د ۲۰۰۱ز کال په ډسمبر کې د هند پر پارلمان وشو. هغه وخت د هند او پاکستان اړیکې لا خرابې شوې چې د ۲۰۰۸ز کال په نوومبر کې وسله والو د ممبیي پر سوداگریزه ښکلې سیمه برید وکړ. نوي ډهلي او لوېدیځو هېوادونو د بریدونو پړه پر لشکر طیبه واچوله. دا د پاکستان په پنجاب کې یو پاکستانی سلفي سازمان دی. په دې پېښه کې ۱۶۰ کسانو ته مرگ ژوبله واوښته چې اکثریت یې هندیان وو، خو له دې ډلې اته ویشت تنه بهرنیان وو چې پکې امریکایان، اسراییلیان، جرمنیان او استرالیایان هم شامل وو.

دوام لري...

# نخبگان د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



کله چې خصوصي سکټور د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ د لوړو زده کړو په برخه کې پانگونه وکړه، نو ډېری هغو کسانو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره شوه چې دولتي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته یې لار نه شوای موندلی. پخوا د بېلابېلو ستونزو له کبله له زده کړو پاتې و او یا یې هم غوښتل د خپل کاروبار تر څنگ لوړې زده کړې وکړي یا هم نور پوهنځي ولولي. دا په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو کېدای شي ځینې ستونزې ور سره ملې وي، خو ډېر داسې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې شته چې په خورا لوړه کچه محصلین روزي او ښه امکانات لري. لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې پر خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو باندې خپل څار زیات کړي، څو یې کیفیت نور هم لوړ شي. په نوره نړۍ کې تر دولتي پوهنتونونو خصوصي هغو ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، ځکه که په نړیواله کچه د پوهنتونونو درجه بندي یا رېنکېنگ وکتل شي، نو خصوصي پوهنتونونه یې په سر کې راځي. دا ځکه چې په خصوصي پوهنتونونو کې محصلینو ته د پیسو په بدل کې زده کړې ور کول کېږي، نو هڅه کوي ټول هغه امکانات ورته برابر کړي، چې یو پوهنتون یې باید ولري او خپل ارزښت ورځ تر بلې لوړ کړي. اوس هم راځو د نخبگان د لوړو زده کړو موسسې پېژندگلوۍ ته. نخبگان د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹٦ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ د بلخ په مرکز کې پر فعالیت پیل وکړ. د دې موسسې د بهرنیو اړیکو مرستیال او د سیاسي علومو پوهنځي استاد محمد یاسین احسان وایي، دا چې ورځ تر بلې له ښوونځیو څخه په یوه زیاته کچه زده کوونکي فارغېږي او لوړو زده کړو وزارت نه شي کولی ټول په دولتي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې جذب کړي، په شمال کې د خلکو اړتیاوو ته په کتو یې په هماغه لومړي سر کې څلور پوهنځي د نخبگان موسسې په چوکاټ کې تاسیس کړل او عملاً یې ورته محصلین جذب کړل.

ښاغلی احسان وایي، نخبگان د لوړو زده کړو موسسه څلور پوهنځي (کرنې، اقتصاد، سیاسي علوم او انجنیري) او یوولس ډیپارټمنټونه لري. دی وایي، کرنه پوهنځی یې درې ډیپارټمنټونه (دکرنیزې پراختیا اقتصاد، نباتات، او ځنگلونه)، د سیاسي علومو پوهنځی یې درې ډیپارټمنټونه (سیاسي علوم، عامه اداره او نړیوالې اړیکې)، اقتصاد پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (ملي اقتصاد او اداره او تجارت) او انجنیري پوهنځی یې درې ډیپارټمنټونه (ساختماني انجنیري، د برق انجنیري او میخانیک) لري.

دا چې نخبگان د لوړو زده کړو موسسې نوی پر کار پیل کړی دی، نو د پوهنځیو شمېر ته په کتو یې د محصلینو شمېر دومره ډېر نه دی. د دې موسسې د بهرنیو اړیکو مسوول وایي، اوسمهال یې په فعالو څلورو پوهنځیو کې د ٦۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۰ سلنه یې ښځینه محصلینې جوړوي. دی وایي، ورځ تر بلې یې د محصلینو شمېر د ډېرېدو په حال کې دی.

د نخبگان د لوړو زده کړو په موسسه کې د تدریس چارې دې دوه ډوله استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي چې شمېر یې ۱۱۵ ته رسېږي. ښاغلی احسان وایي، ٦۰ دایمي او د ۵۵ په شاوخوا کې قراردادي استادان لري، چې د ټولو استادانو شل سلنه یې ښځینه استاداني تشکیلوي. دی وایي، د لوړو زده کړو وزارت له مقررې سره سم یې ټول استادان د ماسټرۍ او ځینې یې د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.

ښاغلی احسان وایي، نخبگان د هېواد په شمال کې د لوړو زده کړو لومړنۍ خصوصي موسسه ده چې په خورا لوړو امکاناتو سمبال او له ټولو ملحقاتو سره مجهزې اداري او تدریسي ودانۍ لري، چې پر یو وخت د ۸۰۰۰ محصلینو د جذب وړتیا لري. نوموړی وایي، په دې برخه کې یې لږ تر لږه ۳۲ میلیون ډالره پانگونه کړې ده. د احسان په خبره، هڅې یې پیل کړې دي چې تر ۲۰۲۰ یا ۲۰۲۱ ز کال پورې په خپلو فعالو څلورو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروگرامونه هم ولري او تر څنگ یې نوي پوهنځي هم تاسیس کړي، چې په دې اړه یې د لوړو زده کړو وزارت سره ځینې کارونه په همغږۍ روان کړي دي. محمد یاسین احسان وایي، لوړو زده کړو وزارت چې په بلخ کې کومه ارزونه کړې ده، تر اوسه هېڅ خصوصي پوهنتون او یا هم د لوړو زده کړو موسسه پر دې نه دي بریالي شوي چې د ماسټرۍ پروگرامونه پیل کړي، خو نخبگان د لوړو زده کړو موسسه به یوازینۍ هغه وي چې د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه ٦۰ کادري غړي لري. مانا دا چې د ماسټرۍ لپاره یې معیارونه پوره کړي دي.

نخبگان د لوړو زده کړو موسسه په کلني ډول د ۳۲۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. د دې موسسې د بهرنیو اړیکو مسوول وایي، دا چې د دوی شرایط یو څه لوړ، د کانکور ازموینه یې جدي او غواړي په کارپوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي، نو پوهنځیو ته په کتو یې د محصلینو جذب یو څه کم دی. دغه موسسه د محصلینو د تخفیف په برخه کې ځانگړی میکانېزم لري، چې له مخې یې محصلین کټگوري کېږي او د هرې کټگورۍ لپاره بېل بېل تخفیف لري. ښاغلی احسان وایي، له تکړه، ممتازو، بېوزلو او هغو محصلینو لپاره چې دوه یا درې تنه له یوې کورنۍ څخه وي، ځانگړی تخفیف لري.

دغه موسسه د ورځې په دریو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي، سهار وختي، له غرمې وروسته او د شپې لخوا. دی وایي، ډېری محصلین یې د شپې لخوا دي، دا ځکه چې په خصوصي پوهنتونونو کې ډېر هغه کسان لوړې زده کړې کوي، چې د ورځې لخوا پر رسمي او غیر رسمي کارونو بوخت وي.

نخبگان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره خورا مجهز کتابتون لري، چې د ښاغلي احسان په خبره، څلور سوه زره امریکایي ډالره پانگونه یې ور باندې کړې ده. دی وایي، په فزیکي ډول د کتابونو پر شتون سربېره چې شمېر یې زرگونو ته رسېږي، الکترونیکي کتابتون هم لري چې ډېر علمي او تخصصي کتابونه پکې موجود دي. نوموړی وایي، د کتابتون لاغني کول یې د پوهنتون په ستراتیژیک پلان کې شامل دي، چې د وخت په تېرېدو سره به پکې پراخ بدلونونه راشي.

د نخبگان د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، په کور دننه او بهر دواړو کې له ډېری پوهنتونونو سره اړیکې لري. دی وایي، اداره یې له کابل مرکزي پوهنتون، بلخ پوهنتون او د هېواد له نورو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري، چې له مخې یې د هغوی له تجربو گټه اخلي او تر څنگ یې خپلې تجربې هم ور سره شریکوي. دی وایي، له هېواده بهر په امریکا، هند، ترکیه او د منځنۍ اسیا هېوادونو له ځینو پوهنتونونو سره اړیکې او هوکړې لرې، چې د دغو اړیکو پراخول او قوي کول یې د ستراتیژیک پلان په لومړیتوبونو کې دي.

نخبگان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو او په اسانۍ سره د دندې پیدا کولو په موخه په میاشتني ډول بېلابېل سمینارونه جوړوي. ښاغلی احسان وایي، کله چې محصل څلورم سمیسټر ته رسېږي، دوی په بلخ کې له بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو سره د شوې هوکړې له مخې محصلین د عملي کار لپاره دغو ادارو ته ور معرفي کوي، څو له فراغت وروسته د تجربې درلودونکي وي او وکولی شي په اسانۍ سره دنده پیدا کړي.

د دې موسسې اداره وایي، د خپل دې بنسټ لپاره یې ستراتیژیک پلان برابر کړی، چې د نویو پوهنځیو ایجاد، د انجنیري پوهنځي لپاره د ساختماني شرکت جوړول، د ماسټرۍ پروگرامونو پیلول او دې ته ورته نور پروگرامونه پکې شامل دي. ښاغلی احسان وایي، په روان کال کې به د کرنې پوهنځي لپاره یو تر ټولو لوی فارم چې کارونه یې بشپړ شوي پرانیزي، چې د دې پوهنځي محصلین به په عملي ډول پکې کار کوي او تجربې به تر لاسه کوي.

د نخبگان د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د کیفیت د تضمین پروگرام پیل کړی، چې په دې سره به فعال او پر شرایطو برابر خصوصي پوهنتونونه له غیر فعالو هغو بېلړي چې دغه څه د خصوصي پوهنتونونو په ارزښت لوړولو کې خورا گټور تمامېږي. د دې تر څنگ، له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې د خصوصي پوهنتونونو لاسنیوی وکړي او استادانو ته یې په کور دننه او بهر کې د وړتیاوو لوړولو په پروگرامونو او ورکشاپونو کې د گډون ونډه ورکړي.

# خلیلزاد: له طالبانو سره د سولې هوکړه کوو، نه د ځواکونو د وتلو



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، امریکا له افغانستانه د سرتېرو د وتلو د موافقې په لټه کې نه، بلکې د سولې د یوې داسې هوکړې په لټه کې ده چې له هغې سره د بهرنیو سرتېرو وتلو ته زمینه برابره شي.

خلیلزاد په یوه ټویټ کې لیکلي چې امریکا په افغانستان کې شرایطو ته په کتو حضور لري او شرایطو ته په کتو له دغه هېواده وځي.

هغه ویلي: «موږ د سولې موافقې په لټه کې یو، د سرتېرو د ایستلو موافقه نه، د سولې هغه موافقه چې د بهرنیو ځواکونو وتلو ته زمینه برابره کړي».

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ په دوحه کې د امریکایي او طالب استازو اتم پړاو خبرې پیل شوې او ټاکل شوې چې دغه پړاو به د دواړو لورو ترمنځ د یوې هوکړې په لاسلیک کولو پای ته ورسېږي.

خلیلزاد دغه راز ویلي، چې طالبانو د سولې موافقې ته شین څراغ ښودلی دی.


نوموړي ویلي: «طالبانو داسې اشارې ښودلې چې غواړي یوې هوکړې ته ورسېږي، موږ یوې ښې هوکړې ته پوره چمتووالی لرو».

نوموړي په داسې وخت کې دا څرګندونې کوي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو تېره اونۍ ویلي، امریکا غواړي په افغانستان کې د شرایطو تر تضمین وروسته خپل پوځي حضور په تدریجي توګه کم کړي.

په ورته وخت کې خلیلزاد دوحې ته تر رسېدو مخکې په اسلام اباد کې ویلي وو چې افغان سوله د افغانستان او پاکستان ضمانت اړتیا لري، چې له مخې یې دا ډاډ تر لاسه شي چې د هېڅ هېواد خاوره به د بل د ګواښولو لپاره نه کارول کېږي.

طالبانو که څه هم تر دې مهاله د افغان سولې د اتم پړاو خبرو پیلېدو په اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې مخکې یې له افغانستانه د بهرنیو سرتېرو پر وتلو ټینګار کړی دی.

# سیګار: د نشه يي توکو په موجودیت کې په افغانستان کې دایمي سوله ناممکنه ده



د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکا د ځانګړې سرمفتش ادارې یا سیګار ویلي، له طالبانو سره د سولې تر تړون وروسته هم نشه يي مواد په افغانستان کې لویه ستونزه ده او په خبره یې، د نشه يي موادو د کښت، تولید او قاچاق په موجودیت کې دې په افغانستان کې دایمي سوله نه شي راتلای.

د سیګار مشر جان سوپکو په واشنګټن کې د افغان نظامي ځواکونو د تمویل او تجهیز په برخه کې د امریکایي ځواکونو د اجراتو راپور وړاندې کولو پر مهال ویلي، که له افغانستانه نشه يي مواد ورک نه شي، له طالبانو سره د سولې تر تړون وروسته به هم ناامني دوام ولري.

نوموړي ویلي: «د نشه يي موادو په موجودیت کې د دایمي سولې تمه مه کوئ، د نشه يي موادو قاچاق کوونکي په افغانستان کې یو غښتلی دولت نه شي زغملی، دا به بېځایه هیله وي، که فکر وکړو چې له طالبانو سره د سولې تر تړون وروسته دې د نشه يي موادو ستونزه هم حل شي، ځکه ترهګرې ډلې هغه ګټې له لاسه نه ورکوي چې د نشه يي موادو له قاچاق کوونکو سره د اړیکو په نتیجه کې یې له نشه يي موادو څخه تر لاسه کوي، باید په یاد ولرو چې نشه يي مواد په افغانستان کې د سولې پر وړاندې یو ستر خنډ دی».

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د دفاع وزارت څېړنې ښیي چې طالبانو په ۲۰۱۷ ز کال کې د نشه يي موادو ۵۰۰ کارخونې درلودې او له دې کارخونو څخه یې په کال کې دوه سوه میلیونه ډالر عواید تر لاسه کول، خو د سیګار ارزونې ښیي چې په تېرو دوو کلونو کې د نشه يي موادو ډېرې کارخونې د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې ویجاړې شوې او طالبانو ته څه د پاسه دوه سوه میلیونه ډالره زیان اوښتی دی.

# د سولې عالي شورا: په دوحه کې د سولې اتم پړاو خبرې به عملي پایلې ولري

د سولې عالي شورا وایي، په قطر کې د امریکایي چارواکو او طالبانو ترمنځ د سولې اتم پړاو خبرې د هېواد لپاره مهمې او هیله بښونکې دي. د دې شورا مرستیال ویاند اسدالله زایري وایي چې په دغه پړاو خبرو کې به د افغانستان د سولې په اړه مهمې پرېکړې وشي.

نوموړي له ازادي راډیو سره په خبر کې ویلي: «ښې نښې وینو، دا غونډه د اوربند او سولې په لور زېری ورکوونکې ده، موږ د سولې په شورا کې په ټینګه باور لرو چې دا ځل خبرو کې به عملي او ملموسې پرېکړې وشي».

دا په داسې حال کې ده چې د قطر پلازمېنه دوحه د افغان سولې په تړاو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالب پلاوي ترمنځ د اتم پړاو خبرو کوربه ده. خلیلزاد تر دې وړاندې ویلي چې له طالبانو سره د سولې یوې موافقې ته د رسېدو غوښتونکی دی. په ورته وخت کې طالبانو هم ویلي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش له معلومېدو سره حاضر دي چې د افغان حکومت په ګډون، له ټولو افغان سیاسي اړخونو سره خبرې وکړي، خو ټینګار یې کړی چې افغان حکومت به هم د یوه سیاسي جهت په توګه په دغو خبرو کې ګډون کوي. له دې سره جوخت د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي چې غواړي په متحده ایالتونو کې د ۲۰۲۰ میلادي کال له ټاکنو مخکې ټول امریکایي سرتېري له افغانستانه ووځي. د ولسي جرګې پخوانی غړی محمد داوود کلکاني وایي چې په قطر کې د روانو خبرو پرېکړې به د بهرنیو ځواکونو وتلو او بین‌الافغاني خبرو ته زمینه برابره کړي.

هغه ویلي: «د نن(پرون) ورځې غونډه هغو بین‌الافغاني مذاکراتو ته زمینه مساعدوي چې په ډنمارک یا اوسلو کې به تر سره شي او حکومت به هم په کې ګډون ولري. کوم پلاوی چې بین‌الافغاني مذاکراتو ته ټاکل شوی، غړو یې مخکې په یوه ډول په حکومت کې وظیفې تر سره کړې».

# هند: د پاکستان پوځ پر امرنات عبادتځای د برید په پلان کې لاس درلود

د هند امنیتي چارواکو ویلي، داسې شواهد یې موندلي چې وسله والو کسانو چې د پاکستان پوځ یې ملاتړ کوي، په کشمیر کې د هندوانو په یوه عبادت ځای د برید پلان جوړ کړی و.

دا په داسې حال کې ده چې د روان میلادي کال د فبرورۍ په څوارلسمه په هندي کشمیر کې د هند د پولیسو پر یوه موټر چاودنه وشوه چې له ۴۰ زیات هندي ملېشه پولیس پکې ووژل شول، چې له هغه وروسته د هند او پاکستان ترمنځ کړکېچ لا زیات شو.

د رویټرز خبري اژانس په حواله، هندي چارواکي وايي چې وسله والو کسانو پلان جوړ کړی و چې د امرنات په غار کې چې د هندوانو لپاره ډېر سپېڅلی ځای دی او هر کال زرګونه هندوان د عبادت لپاره ورځي، چاودنه وکړي.

د چارواکو په خبره، د چاودېدونکو موادو په هغه بسته کې چې موندل شوې، داسې ماینونه هم شامل وو چې د پاکستان ساخت نښه ورباندې لګول شوې وه.



رویټرز خبري اژانس وایي، د هند تر واکمنۍ لاندې کشمیر کې حکومت امر کړی چې د امرنات غار ته د عبادت لپاره د زیارت کوونکو تګ بند شي او پر هغو کسانو چې وار له مخه هلته ورغلي، امر وشو چې خپلو کورونو ته ستانه شي.

د جامو او کشمیر حکومت ویلي چې دا اعلان یې د استخباراتي معلوماتو پر بنا کړی دی.

د هند د پوځ یوه جنرال «ک. ج. اس ډیلون» په سرینګر کې خبریالانو ته ویلي: «پر ماینونو د پاکستاني فابریکو نښان په وضاحت دا څرګندوي چې د پاکستان پوځ په کشمیر کې په تروریزم کې لاس لري».

د پاکستان پوځ او یا د بهرنیو چارو وزارت تر اوسه د هند د دغې ادعا په اړه څه نه دي ویلي. خو د پاکستان حکومت تر دې وړاندې بیا بیا د سیمې په کچه په تروریستي فعالیتونو کې لاس لرل رد کړي دي.

د پاکستان حکومت وایي چې په دې وروستیو کې یې د تروریستي ډلو پر وړاندې ځینې عملي اقدامات هم کړي دي.

دغه هېواد وایي چې په تازه اقدام کې یې د لشکر طیبه ډلې مشر حافظ سعید نیولی دی.

حافظ سعید تورن دی چې د هند پر ممبۍ ښار په ۲۰۰۸ میلادي کال کې د تروریستي بریدونو اصلي پلان جوړوونکی و. هغه مهال په یاد برید کې ۱۶۶ تنه وژل شوي او ډېر نور زخمیان شوي وو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۴۰ |
| € | ۸۷,۱۰ |
| Rp. | ۴۹۸ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۴,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د زمري ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ځلورمه | ٤١٥مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٣٦ | ٤٢ | ٤٣ | ٤٣ | ٤٠ | ٤٠ |
| ١٩ | ٢٤ | ٢٤ | ٣١ | ٢٨ | ٢٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۰ | لمر ختل ۰۵:۰٤ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤۵ | ماښام ۰٦:۵۵ | ماخوستن ۰۸:۳۰

## نړۍ



# هند: د پاکستان پوځ پر امرنات عبادتځای د برید په پلان کې لاس درلود

۵مخ

## ایران: ډېر ژر به د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د ژمنو د راکمولو په تړاو درېیم ګام واخلو



د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف ویلي، هېواد به یې د نړۍ له پیاوړو قدرتونو سره د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د ژمنو د راکمولو په اړه درېیم ګام واخلي.

د ایران د پارلمان خبري اژانس د جواد ظریف په حواله لیکلي: «له اوسنیو شرایطو سره سم به ایران د اټومي تړون په برخه کې د خپلو ژمنو د راکمولو درېیم ګام واخلي».

خو نوموړي د راتلونکي اقدام په اړه نور جزیات نه دي ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې ایران په تېره مې میاشت کې اعلان وکړ چې که د دغه تړون نور لاسلیکوونکي هېوادونه خپلو ژمنو ته په بشپړه توګه درناوی ونه کړي، ایران به په تدریج سره د دې تړون په برخه کې خپلې ژمنې راکمې کړي.

ایران له وړاندې د دغه اټومي تړون د موادو پر خلاف په لوړه سطحه د یورانیمو د بډاینې چارې پیل کړې دي.

د امریکا او ایران ترمنځ کړکېچ وروسته له هغې زور واخیست چې امریکا په ۲۰۱۸ ز کال کې له دغه تړونه ووته او پر ایران یې نور بندیزونه ولګول.

که څه هم اروپايي هېوادونه فرانسه، جرمني او برېټانیا چې د دغه تړون نور لاسلیک کوونکي دي، د امریکا او ایران تر منځ د شخړو د راکمولو هڅې کوي، خو دا تړون خوندي کړي، خو ایران ادعا کوي چې دغه هېوادونه د امریکا د فشارونو په راکمولو کې ناکام شوي دي.

## چین: بیجېنګ به د اټومي وسلو د نوي تړون لپاره د ټرمپ وړاندیز ونه مني



په ملګرو ملتونو کې د چین سفیر ژانګ جون ویلي، چین د امریکا او روسیې ترمنځ د منځني واټن اټومي وسلو د تړون پر لغوه کېدو خواشینی دی او بیجېنګ به د وسلو د نوي تړون لپاره د ټرمپ وړاندیز ونه مني.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او روسیې ترمنځ د منځني واټن اټومي وسلو تړون یا (INF) په ۱۹۸۷ ز کال کې د امریکا د هغه مهال ولسمشر رونالډ ریګن او د شوروي اتحاد ولسمشر میخایل ګورباچوف لاسلیک کړی و چې ورمه ورځ واشنګټن په رسمي ډول له دغه تړونه بهر شو.

په ورته وخت کې د روان میلادي کال په لومړیو کې امریکا او ناټو پر روسیې د نویو کروز توغندیو د ځای پر ځای کولو تور پور کړ، خو مسکو بیا دغه تور رد کړی دی.

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ورمه ورځ وویل چې دی دې ته لېوال دی چې له روسیې سره یو نوی تړون لاسلیک کړي او چین هم پکې داخل کړي او په دغه تړون کې به هر ډول اټومي وسلې راکمې کړي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د روسیې، چین او امریکا ترمنځ د ځینو لویو نړیوالو مسایلو له کبله اړیکې ترینګلې شوې چې په تازه اقدام کې یې ټرمپ پر روسیې نوي بندیزونه هم لګولي دي.

## وزارت دفاع ملی: در صفوف اردوی ملی هیچ سرباز خیالی وجود ندارد



وزارت دفاع ملی، گزارش اخیر سیگار مبنی بر حضور نیروهای خیالی در صفوف اردوی ملی را رد کرده و می‌گوید که در حال حاضر، بیش از ۹۹ درصد سربازان اردوی ملی بایومتریک شده اند.

این در حالی است که چندی قبل، اداره بازرسی ویژه آمریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار، گزارشی را نشر کرده که در آن آمده است، در یک سال اخیر، نامهای حدود ۴۲ هزار سرباز خیالی از صفوف نیروهای اردوی ملی افغانستان بیرون کشیده شده، که با این آمار گفته می‌شود در یک سال پسین، در نیروهای ارتش افغانستان کاهش قابل توجه رونما شده است.

روح الله احمدزی سخنگوی وزارت دفاع ملی، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که در صفوف نیروهای دفاعی کشور، هیچ سرباز خیالی حضور ندارد؛ زیرا اکثر این نیروها بایومتریک شده اند.

وی در واکنش به گزارش اخیر سیگار افزود که سیگار در تهیه این گزارش خود، هیچ تماسی با وزارت دفاع ملی نگرفته وخواستار معلومات نشده است.

موصوف علاوه کرد که به احتمال قوی سیگار در این گزارش، سقف تشکیلاتی وزارت دفاع را که ۲۳۴ هزار تن پیش بینی شده است، با سقف اکمال اردو که در حدود ۲۰۰ هزار تن می باشند، مغالطه کرده باشد.

او گفت که نام و شهرت ۲۳ هزار تن از منسوبین اردو به دلیل ترخیص، تقاعد، انفصال، شهادت و معلولیت، از سیستم بیرون گردیده و در لیست جداگانه تنظیم شده اند.

منبع اضافه کرد که در حال حاضر، معاشات ۱۶۶۰۵۶ منسوب اردو از طریق بانک پرداخت می گردد و قرار است تا یک ماه آینده ۱۸ هزار تن دیگر نیز شامل این برنامه شوند و بعد از آن، ده هزار تن دیگر شامل این سیستم خواهند شد.

## ژوند

## تاسو یوه روښانه راتلونکې لرئ



خدای پاک خپلو بنده ګانو ته روښانه راتلونکې په پام کې نیولې ده. کېدای شي خلک پر تاسو باندې منفي لېبلونه ووهي، خو دا ستاسو مسوولیت دی چې د دغو منفي افکارو تر اغېز لاندې راځئ او که نه؟ د هغه څه د لاسته راوړلو لپاره هڅه وکړئ چې خدای پاک یې در سره وعده کړې ده. کېدای شي خلک درته ووایي، تاسو ډېر واړه یئ، ډېر کمزوري یئ، شخصیت مو سم نه دی او یا تاسو له ښې کورنۍ څخه نه یئ. لازمه نه ده چې ټول عمر له همدې منفي لېبلونو سره ژوند وکړئ. خدای پاک تاسو په تر ټولو ښه بڼه پیدا کړي یاست. تاسو ښه شخصیت لرئ، ښه وړتیا لرئ، ښه ښکاري او د پوستکي رنګ مو هم ډېر ښایسته دی. خدای پاک انسان په خپل ظرافت جوړ کړی دی، تاسو د یوې پېښې له مخې نه یاست پیدا شوي، بلکې تر ډېر فکر او دقت وروسته ستاسو د پیدایښت پرېکړه شوې ده. هڅه وکړئ چې د منفي لېبلونو پر ځای در باندې نوي، مثبت، دقیق او ظریف لېبلونه ووهئ او د رښتیا کولو لپاره یې لاس په کار شئ.

## د خوب کولو دغه حالت مو د روغتیا لپاره مضر دی



انسان په منځني ډول د خپل عمر ۱ پر ۳ برخه خوب کوي. دوی د خوب کولو بېلابېل حالتونه او موقعیت ټاکي.

څېړنې ښیي چې پړمخې (د خېټې په خوا) خوب د صحت لپاره د خوب غیر صحي ډول دی. ډاکټران وایي، هغه څوک چې پړمخې ویده کېږي، خوب به یې ناارامه او ناراحته وي.

څېړونکي زیاتوي چې پړمخې خوب د ملا او غاړې دردونه پیدا کوي او د وینې جریان هم ورسره سلو (ورو) کېږي.

د ماشومانو لپاره پړمخې خوب یوه بله ستونزه هم زیږوي. هغه ماشومان چې پړمخې ویده کېږي، په سمه توګه اکسجن نه شي اخیستلای. کله چې انسان پړمخې ویده کېږي، پر سږو فشار راځي. کله چې پر سږو فشار راشي، وینې ته په سم ډول اکسجن نه رسېږي او انسان ور سره ناراحته کېږي. که په سم ډول د بدن ټولو برخو ته اکسجن او وینه ونه رسېږي، د بدن د دردونو لامل کېږي او انسان د دې احساس نه کوي چې سم خوب یې کړی دی.

په اسلام مبارک دین کې هم پړمخې خوب ښه نه دی ګڼل شوی. د خوب هماغه سنت طریقه هم څېړنو ثابته کړې، چې د خوب لپاره غوره طریقه ده. په ښي اړخ ویده کېدل، د ښه صحت لپاره ګټور دي.